عمومي مجمع
د امنيت شورا

وېش: عمومي
سپتمبر ۱۳، ۲۰۱۲
اصلي متن: انګرېزي

عمومي مجمع
۶۷ ناسته
د مؤقت اجنډا ۳۸ شمېره موضوع*

د امنيت شورا
۶۷ کال

**وضعيت په افغانستان کې**

# په افغانستان کې وضعيت او پر نړيوال سوله او امنيت باندې د هغه پايلې

# د عمومي منشي راپور

**لومړی: مقدمه**

۱. اوسنی راپور د عمومي مجمعې د ۶۶/۱۳ شمېر قطعنامې او د امنيت د شورا د ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) شمېر قطعنامې پر بنسټ وړاندې کيږي، چې د هغه په ترځ کې شورا زما څخه وغوښتل چې د هرې درې مياشتو وروسته په افغانستان کې د بدلونونو په اړوند راپور ورکم.

۲. دغه راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ملګرو د بشري، پرمختيايي مرستو او د بشري حقونو د سترو هڅو په ګډون، زما د پخواني راپور د مودې را پدېخوا چې د ۲۰۱۲ کال د جون د مياشتې په ۲۰ نېټه (A/66/855-S/2012/462) صادر شوی، تازه معلومات وړاندې کوي. په همدې ډول راپور د کليدي سياسي او امنيتي پرمختګونو لنډيز او د افغانستان په اړوند سيمه ييز او نړيوال پېښې په ګوته کوي.

**دوهم: اړوند پرمختګونه**

**الف: سیاسی پرمختګونه**

۳. د راپور ورکولو په موده کې، د افغان او نړیوال برخوالو پام د افغانستان په اړوند د توکیو او پر تعقیبی کنفرانس باندې مرکوز و چې د جولای د میاشتې په ۸ نېټه د افغانستان او جاپان د حکومتونو لخوا په ګډ ریاست سره جوړه شوه. په کنفرانس کې د لوړ پوړو چارواکو د زیات شمېر شتون او د مالي مرستو کچه دا یې روښانه کړه چې د نړیوالو پوځي ځواکونو د حضور د کمېدو سره سره افغانستان به یوازې نه پرېښودل کیږي. نړیواله ټولنه ژمنه وکړل چې دوي به خپلو مرستو ته د لېږ پړاو څخه د بدلون د لسیزې تر پایه پورې، ۲۰۱۵- ۲۰۲۴ دوام ورکوي په دې شرط چې د افغانستان حکومت په کلیدي ډګرونو کې پرمختګ وکړي.

۴. د کنفرانس څخه مخکې، د جون د میاشتې په ۱۲ نېټه، افغان ولسمشر حامد کرزی د ملي شورا ځانګړي ګډې غونډې ته وینا وکړ. په وینا کې هغه ژمنه وکړ چې د خپلې دورې پاتې دوه کلونه د ښه حکومتوالې، حسابورکوونې او د مرستو د اغېزمنتیا د لا پیاوړي کولو ته به وقف کوي. ولسمشر د کنفرانس څخه وروسته د جولای د میاشتې په ۲۷ نېټه یو فرمان صادر کړ چې په هغه کې د حکومت وزارتونو او ادارو ته د عمل لپاره ځانګړې زماني چوکات رامنځته کړ چې د توکیو په کنفرانس کې د حکومت لخوا پر شویو ژمنو باندې مرکوز دي چې د معافیت او فساد پر ضد مبارزه او د حکومت ساختارونه پیاوړي کوي.

۵. د توکیو په اعلامیه کې او همدارنګه د توکیو په متقابل حسابورکوونې چوکاټ کې د توکیو د کنفرانس ګډونکوونکې یو ځل بیا پر خپل ژمنې او د اساسي قانون پر بنسټ په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو کې د باور وړ او پراخ ولسمشریز او پارلماني ټاکنو باندې ټینګار وکړل. اوس اړتیا ده چې پر حقوقي او تخنیکي چوکاټ باندې موافقه وشي. په ځانګړي ډول د ټولټاکنو او د ټاکنو د خپلواک کمیسیونونو د جوړښت قوانین باید د ۲۰۱۳ کال د لومړیو دریو میاشتو په موده کې، د ټاکنو څخه یو کال مخکې، بشپړ او تنفیذ شي. اوس مهال د ټاکنو قانون د عدلیې وزارت سره دی او د ولسمشر د ۲۷ جولای د فرمان پر بنسټ باید د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر د میاشتې تر پایه پورې د وزیرانو شورا غونډې ته وړاندې شي. دوهم قانون چې د کمیسیون د مشرتابه د انتصاب چارې تنظیموي اوس مهال د ملی شورا د ولسي جرګې په خونه کې تر بحث لاندې دی. په داسې حال کې چې یاد شوي قوانین تر اوسه ندي تایید شوي، خو د باور وړ انتصابونه او پراخ بنسټه پروسه، په دغه کار کې د پراخ باور د ډاډمن کولو لپاره بنسټیز او مهم ګڼل کیږي. همدا ډول د یو بل بدلون په ترڅ کې د جولای د میاشتې په ۱۰ نېټه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون رئیس خپل استعفا اعلان کړ په داسې حال کې چې د دغه کمیسیون د مشر د کار موده د ۲۰۱۳ کال د اپریل په میاشت کې پای ته رسیږي.

۶. د کمیسیون د غوښتنې پر بنسټ، د رای ورکوونکو د نوم د ثبتولو د امکانات د مطالعې درې کسیزه ډله، چې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ټاکنو د ملاتړ پروژه، ایلیکټ دوهم (د سبا لپاره د ټول ټاکنو د حقوقي ظرفیت پیاوړي کول دوهمه مرحله) لخوا ملاتړ کیږي، د راتلونکې ټاکنو لپاره د رای ورکونکو د نومونو د ثبتولو په اړوند د لا ښه تګلارې د وسایلو او امکاناتو تحلیل تر سره کړ. د دغه تحلیل موندنې د جولای په ۳۱ نېټه کمیسیون ته وړاندې شو. یاده ډله په موندنو کې توصیه کړې چې د رایو ورکوونکو د نومونو مرحله وار ثبتول، رایورکوونکې د رایو مرکزونو سره تړې، په پراخه پیمانه د درغلیو په کمه ولو کې مرسته کوي، عملیاتي پلان جوړونه لا پسې ښه کوي او د راي ورکوونکو د هویت د تثبیت لپاره اغېزمن بنسټ وړاندې کوي. د کمیسیون سره د ناستې وروسته، ولسمشر د اګست په ۱ نېټه په عمومي ډول د موندنو څخه ملاتړ څرګند کړ او هدایت ورکړ چې د مالیې وزارت سره د تمویل د میکانیزمونو په اړوند بحث وشي. نړیوال تمویلکوونکي د سیاسې، امنیتې او نورو ستونزو او د ګواښونو د کمولو لپاره د ممکنه ستراتیژیو په اړوند د لا زیاتو معلوماتو غوښتنه کړې ځکه چې دغه کار د تهور څخه ډک عمل دی او همدارنګه ډېر مصارف به وغواړي.

۷. راتلوونکې ټولټاکنې دوره به په پراخه پیمانه په افغان برخوالو کې پیاوړی سیاسې ګټې ځان ته جلب کړي. دوه ستر سیاسې ائتلافونه، د افغانستان ملي جبهه او د افغانستان ملی ائتلاف، د نورو ډلو سره ګډې غونډې تر سره کړي چې په هغه کې د حق او عدالت ګوند، د اسلامي ګوند هم شامل وو او په عمومي ډول په انتخاباتي کاري چوکاټ کې د سیاسې ګوندونو د لاپراخې ونډې پلوي څرګند کړل. د جولای په ۱۲ نېټه د عبدالهادي ارغندیوال تر مشری د حزب اسلامی ګوند هم په کابل کې خپله ملي ناسته تر سره کړ چې په هغه کې ۲۰۰۰ تنه حضور درلود او د سولې د پروسې څخه د ملاتړ او په ۲۰۱۴ کال ټولټاکنو کې د فعالې برخه اخیستنې پر اړتیا باندي تاکید وشو. په یو بل نوي صادر شوي طرزالعمل کې چې د جولای په ۱۱ نېټه خپور شو، د ګوندونو څخه غوښتل شوي چې د خپل ګوند د رسمي ثبت لپاره دوي باید د هیواد په ۲۰ ولایتونو کې دفترونه ولري، چې د سیاسې ګوندونو د فعالیت لپاره د بالقوه محدودکولو اندیښنې لامل شوي.

۸. په یو بل د پام وړ دیپلوماتیک فعالیت کې د افغانستان او پاکستان حکومتونو تر منځ د پولو څخه د تګ راتګ پر مسلو باندي مرکوز وو. پاکستانې چارواکو شکایت کړي چې په افغانستان کې میشت وسله والې ډلې پر باجوړ او دیر ولسوالې کې بریدونه تر سره کړي. د جون په ۲۵ نېټه په اسلام آباد کې د افغانستان د سفارت مرستیال د پاکستان بهرنیو چارو وزارت ته احضار شو او په کلکه د هغو راپورونو په اړوند اعتراض څرګند کړ چې کابو ۱۰۰ تنه وسله وال کسان د دیر د پولو څخه اووښتې او تیره شپه شپږ تنه پاکستان امنیتې ځواکونه او ۱۱ تنه میلشه یې وژلې. د جولای په ۲۲ نېټه جاوید لودین د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال په کابل کې د پاکستان سفیر سره تلیفوني خبرې وکړ او د هغه په ترڅ کې د کنړ پر ولایت باندي د پاکستانې ځواکونو د توپخانې برید په اړوند خپله ژوره اندیښنه څرګند کړ. د اګست په ۱۵ نېټه افغان ولسمشر د پاکستان ولسمشر سره د سعودی عرب د مکې شریف په ښار کې سره وکتل چې دغه کتنه د اسلامی همکاری د سازمان د مشرانو په څلورم فوق العاده کنفرانس په څنډه کې تر سره شو او دوي موافقه وکړل چې د دواړو هیوادونو یو ګډ نظامی پلاوي به وټاکل شي ترڅو د پېښې په اړوند تحقیق وکړي. د اګست په ۲۵ نېټه د ایساف یو سرچېنه وویل چې د پاکستان د تحریک طالبان مشر مولوی دادالله تیره ورځ د کنړ په ولایت کې د هوایې برید په ترڅ کې د نورو بلوګرو سره وژل شوې.

۹. د کنړ پر ولایت باندي د پولې هاخوا د توپخانې بریدونه هغه یوازنې لامل ښودل شوي چې د اګست په ۴ نېټه د ملي شورا د ولسې جرګې خونه د ملي دفاع وزیر عبدالرحیم وردګ او د کورنیو چارو وزیر بسم الله خان د دوی ناستې ته راوبلل شول. نور تنقیدات په دواړه وزارتونو کې د اداری فساد په ګډون، مقننه ځواک ته د احترام نه درلودل او په کورنیو چارو وزارت کې کم کاري عنوان شوي. په پای کې قانون جوړونکې دواړه وزیرانو ته د نه اعتماد رایه وکړل. د هغه وروسته د ملي امنیت شورا په یوه اعلامیه کې وویل چې دوی د ملي شورا پریکړو ته درناوي لري او ولس مشر دواړه وزیرانو ته هدایت ورکړ چې خپل کار ته د سرپرست په ډول ادامه ورکړي. د اګست د میاشتې په ۷ نېټه ښاغلي وردګ له دندې څخه استعفا ورکړ او وروسته د امنیت په ډګر کې ولسمشر د ستر سلاکار په ډول انتصاب شو.

۱۰. د حکومت د یوې غوښتنې په ځواب کې د جولاي په ۱۹ نېټه د امنیت شورا کمېټه چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک پر بنسټ رامنځته شوي و، د طالبانو د رژیم د مالیې وزیر عبدالواسع معطصم آغا د تعذیراتو د نوم لړ څخه ویست. د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتې د ۱۷ نېټې را پدې خوا، چې دغه تدابیر نافذ شوي وو، ټولټال ۲۰ تنه د دغه لست څخه ایستل شوي دي. اوس مهال د امنیت شورا د ۱۹۸۸ پریکړې په ترڅ کې د رامنځته شوي تدابیر پر پلې کولو باندی بیاکتنه کوي چې باید د ۲۰۱۲ کال تر پایه پوری بشپړ شي چې مخه یې ډاډ تر لاسه کول دی چې ورکړاي شوي دندې او فعالیتونه د پراخ بنسټ سولې او ټیکاو لپاره په ښه توګه د هڅو ملاتړ کوي.

۱۱. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوي (یوناما) د سولې عالې شورا ته د کار په ډګر کې تحلیلی، مشورتي او لوژستیکي مرستو ته دوام ورکړی چې د ملګرو ملتونو د پرمختیا پروګرام د افغانستان د سولې او بیا ادغام پروګرام سره مرسته کوي چې موخه یې د جګړې د ډګر څخه د تېښتې کچې جنګیالیو ایستل دی. د دغه پروګرام د ګډ سکرتریت د وینا پر بنسټ د اګست د میاشتې تر نیمایې پورې ۵۰۲۵ تنه پخوانې د حکومت ضد عناصر په رسمې ډول ثبت شوي دي. اوس مهال د دغه پخوانې جنګیالې ۱۰ سلنه د بشرې مرستو د مین پاکې په سکتور کې په کار بوخت دي چې د ملګرو ملتونو د مین پاکې د خدمتونو د دفتر لخوا یې ملاتړ کیږي او د افغانستان د حکومت لخوا، د پرسونل ضد ماینونو د تولید، کارونې، زیرمه کول او لیږد او د دغه ماینونو د له منځه وړلو د کنوانسیون تر لاندې، د شویو ژمنو په پلې کولو کې هم مرسته کوي. په ټولنه کې د غړې په ډول د دوې فعاله ونډه او همدارنګه د خپل ټولنې لپاره خواخوږې د بیا جوړونې او بیا ادغام د هڅو مثبت پایله ګڼل کیږي. یوناما د دغه پروګرام د تخنیکي کمېټې غړې په دول، د ادغام شوي جنګیالیو د تذکیې، په ټولنه کې د دوې ګډون، آزادې او خوندیتوب اړوندو مسالو کې خپل سلا مشورو او ملاتړ ته دوام ورکوي.

۱۲. د صلاح الدین ربانې تر مشرې لاندې د سولې عالې شورا په دې لټه کې دی چې خپل فعالیتونو ته نور هم خوزښت ورکړي تر څو د دوامداره سولې د پروسې لپاره یو مُمِد سیاسي چاپېریال رامنځته کړي. د شورا عملې نوښتونه چې غوارې لېږې پراته سېمو او ټولنو ته لاسرسي ولري، د ښځو، ځوانانو او دینې استازو ګډون ډاډمن کول، په شورا کې د مدنې ټولنې د کارې ډلې رامنځته کول هم شامل دي. د جولای د میاشتې په ۲ نېټه د شورا رئیس او د رهبرې غړې د سعودی عرب د هیواد څخه لیدنه وکړل او د خپل سعودی عرب سیالانو سره موافقه وکړل چې اړتیا ده د سولې د پروسې لپاره د پاکستان سره کار وشې او همدارنګه پدې اړوند د دینې عالمانو او مشرانو د اهمیت وړ ونډې څخه هم کار واخیستل شي. د راپورونو په حواله هغه سفر چې تمه کیده د شورا غړې د اګست د میاشت په سر کې د پاکستان څخه لیدنه وکړي، پر کنړ ولایت باندې د پولې هاخوا د ټوپونو د ډزو له امله وځنډیده.

۱۳. د سېمې په کچه کابو ۱۵۰ تنه زبده عالمان، د مدنې ټولنو فعالین او دینې مشران د یو سوله ییز افغانستان لپاره د نړیوال اسلامی همکارې په دوهم کنفرانس کې د ګډون لپاره کابل کې سره را ټول شول په کوم کې چې زما ځانګړې استازی یان کوبیش مهمه وینا وکړ. د کنفرانس ګډونکوونکو د جون په ۲۱ نېټه د کنفرانس اعلامیه خپور کړل چې په هغه کې دوې انتحاری بریدونه او د ملکې کسانو پر ضد د بې تفکیک بریدونه او پر متبرکه ځایونو، دېنې ناستو، مارکیټ ځایونو او د عام خلک د راټولیدو په ځایونو باندې وسله وال بریدونه وغندل. د یوناما په مرسته ځایي نوښتونه د کندهار او اروزګان ولایتونو د والیانو سره وکتل او دودیز غونډې درلودل. د جولاي په ۲ نېټه سلګونه دېنې عالمان او قومي مشران په ترین کوټ کې سره را ټول شول او د سولې او مصالحې په ګټه ۱۱ فقره ای اعلامیه خپور کړل. د جولاي په ۱۵ نېټه په یوه ورته ناسته کې چې د کندهار په ولایت جوړ شوي وو، ګډونکوونکو یو ۱۵ مادییز پریکړه خپور کړل چې پکې د قانون د حاکمیت ارتیا، د امنېتې نهادونو سمون او لیرې پرتو سېمو ته د ولایتې سولې کمېټې ښه لاسرسي باندي ټینګار درلود.

**ب. امنیتي پرمختګونه**

۱۴. افغان امنېتې ځواکونو ته د امنېتې مسولیتونو د لېږ دریم پړاو د پروګرام سره سم روان و، چې د ټول کندهار ولایت برسیره چې د افغانستان د نفوسو ۷۵ سلنه جوړوي، د کاپیسا، کندز او اروزګان ولایتونه هم امنېتې مسولیت په غاړه واخیستل. تر دې مهاله په هغو سېمو کې چې د امنېتې مسولیت د لیږد پروګرام بشپړ شوی دی د امنیت او ولسې نظم کې کوم ستر بدلون او یا د وضعیت خرابیده ندی تر سترګو شوي. اوس مهال د حکومت لخوا توظیف شوی د لېږ د همغږې کمیسیون د دوو آخرې پړاونو پر تیاریګانو باندې تمرکز کړي.

۱۵. د مې د مياشتې را پديخوا پراخه پاملرنه هغه راپورونو ته اړول شوي چې د غزني ولايت په اندړ ولسوالۍ کې د ولسې پاڅون په اړه رسېږی چې د طالبانو او نورو وسله والو کسانو تر منځ د سېمې د کنټرول په خاطر خونړی شخړې شوي. د يوې مخ په وده پېچلې منازعه کې د طالبانو پر ضد د غور، لغمان، ننګرهار او نورستان په ولايتونو کې هم د مقاومت ورته راپورونه رسيدلي چې په ځېنې راپورونو کې د وردګ، لوګر او لغمان په ولايتونو کې د بلاګرو تر منځ د شخړی ذکر هم راغلې.

۱۶. ملګري ملتونو په دومداره توګه د امنيت اړوند پېښې څارې کوم چې د ملکي فعالينو د خونديتوب، خوزښت او کار سره تړاو لري او په بلقوه ډول سره د ورکړ شويو دندو او پروګرامونو پر پلې کولو باندی اغيزه لري. د راپور ورکولو د مودې په جريان کې ملګري ملتونه او د هغه پلي کوونکي همکاران د هغه بريدونو مستقيم او جانبې هدف ګرځېدلي کله چې د دوي پر کاروانو باندی د فراه، فارياب، غور، هرات، کندهار او د وردګو په ولاتونو کې بريدونه تر سره شول. د اګست د مياشتې په ۲۹ نېټه د ملګرو ملتونو يو داخلې کارکوونکي هغه مهال ژوبل شو چې د بلخ ولايت د کلدار په ولسوالۍ کې د ملګرو ملتونو د يو موټر پر ضد د ځای پر ځای چاوديدونکې توکې بريد تر سره شو ، پداسې حال کې چې تر اوسه هم روښانه نه ده چې آيا د دغه بريد موخه دغه موټر و او که نه. د باغيس، بغلان، فراه، هرات او د کنړ په ولايتونو کې د ملګرو ملتونو داخلې کارمندان تښتول شوي خو وروسته پرته له کوم ضرره د مشرانو په مداخلې سره آزاد شوي دي. د ننګرهار په ولايت کې هم داخلې کارکوونکو ته ګواښ شوي په داسې حال کې چې د کابل او قندهار په ولايتونو کې د ملګرو ملتونو پر موټرانو باندي بريدونه شوي کوم چې د داخلې کارکوونکو ته د وړل او راولو خدمتونه تر سره کول.

۱۷. په عمومې ډول سره د ثبت شوي امنېتې پېښو کچه د ۲۰۱۱ کال په پرتله ټېټه وه خو شمېر يې د ۲۰۱۰ کال په انډول سره ورته دې. د مې د مياشتې د لومړي نېټې څخه بيا د جولاي د مياشتې تر ۳۱ نېټې پوري، چې په متعارف ډول د دوبې د جګړو موسم دی، ټولټال ۵۱۹۰ پېښې ثبت شوي چې د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په ترله (۷۴۷۰ پېښې) ۳۰ سلنه کموالې ښيې. داسې تحليل کيږی چې دغه کمښت د يو شمير رجحاناتو پايله وي، د افغان او نړيوال پوځې ځواکونو په واسطه د بلواګرو د خنډ کيدو، د وسلو انتقال او د تمويل سرچېنې، د نړيوالو پوځې ځواکونو بېرته ځای پر ځاي کيدل په ګډون، د دي سبب شوي چې د مخامخ وسله والې جګړي امکانات کم کړي. د پېښو د مجموعي څخه چې د مې د مياشتې د لومړي نېټې بيا د جولاي د مياشتې تر ۳۱ نېټې پوري ثبت شوي، ۶۹ سلنه پېښې د سهيل، سهيل لويديځ او لويديځ سيمو کې دي او اکثراً د غزنې، هلمند، قندهار، خوست، کنړ او ننګرهار په ولايتونو پېښ شوي.

۱۸. بلواګرو پر دې تمرکز درلود چې د سهيل لويديځ او لويديځ ولايتونو له لاري کابل کې نفوذ وکړي. د کنړ، لغمان، لوګر او ننګرهار ولايتونه د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله د زياتو امنېتې پيښو شاهد وو. وسله واله جګړه او تعبيه شوي چاوديدونکې توکې د پيښو د زياتره برخه جوړوي. په انتحاری بريدونو کې لږ کمښت راغلي چې د مې د مياشتې د لومړي نېټې څخه بيا د جولای تر ۳۱ نېټې پوري ۳۲ انتحاری بريدونه تر سره شوي چې دغه پېښې د ۲۰۱۱ کال په ورته موده کې ۳۷ پېښې ثبت شوي وو. د جولاي په مياشت کې، که څه هم بلواګرو ډيري هڅې وکړي خو يوازی پنځه ځانمرګې بريدونه ثبت شوي چې دغه شمېره د ۲۰۱۱ کال په ورته موده کې ۹ ځانمرګې بريدونه ثبت شوي وو. د دغه کمښت يوه برخه پدې دليل دی چې افغان او نړيوال پوځې ځواکونه يوه زياته اندازه چاوديدونکې توکې او د ځانمرګې بريدونو وسايل کشف او ضبط کړې او همدارنګه د ځانمرګې بريدونو مرکزونه تخريب کړي دې. امنېتې ځواکونو په حواله د جولاي په مياشت کې پنځه ځانمرګې بريدونه د هرات، کابل، قندهار او قندوز ښارونو کې شنډ شوي دي چې د دې له جملې څخه د کابل په ښار کې د يو ستر ځانمرګې بريد څخه د اګست په ۲ نېټه هغه مهال مخنيوي وشو چې د ځانمرګې بريد ډله و نتوانيدل په ښار کې نفوذ وکړي.

۱۹. د دا ډول پلان شوي او يا تر سره شوي بريدونو پېچلتيا او ځواک مخ په زياتوالې دی. د جون د مياشتې په ۲۱ نېټه څلور وسله وال بريدکوونکي چې په سپک او ثقيلو وسلو سمبال وو د کابل په څنډه کې د قرغي د اوبو د بند ته څېرمه پر يو

رستورانت برید وکړل او په څلور ساعت جګړه کې ۲۱ ملکي کسان او دري تنه افغان پولیس افسران ووژل او ۷ تنه ملکیان یې ژوبل کړل. کله چې طالبان د دغه برید مسولیت ومنل، هڅه کول چې د ملکي او وګړو میشت ځاي په نښه کولو پدې بیان سره معذرت وغواړي چې ګویا په رستورانت کې غیر اسلامي کردار تر سره کیدل.

۲۰. د ۱۵۷۰۰۰ افغان ملي پولیس ځواک او ۱۹۵۰۰۰ افغان ملي اردو چې ټاکل شوي د ۲۰۱۲ کال تر پایه پوري بشپړ شي، د روکړل شوي پلان څخه دمخه دی. د جولاي د میاشتې تر پایه پوري کابو ۱۴۹۰۰۰ ملی پولیس ځواک او ۱۸۵۰۰۰ ملي اردو ځواک په دنده بوخت دي. پدې خاطر چې د افغان ملي پولیس څخه د قانون د پلي کوونکي ځواک په ډول استفاده شي، د کورنیو چارو وزارت د اپریل په میاشت کې د ولسي پولیس سکرتریت یې ایجاد کړ تر څو په ټولنه کې د پولیس نوښت همغږی کړي او د مدني ټولنې سره په اړیکه کې واوسي چې د پولیس غبرګون، حسابورکوونه او مسولیت پذیری زیات شي او په پام کې لري چې د هیواد په اتو ولایتونو کې د ولسي پولیس واحدونه رامنځته کړي. اوس مهال تمرکز پر دي باندي دی چې وزارت د ستراتیژی په کچه د زده کړي او نصاب پروګرام ورته طرحه کړي. د ښځینه پولیس د افسرانو د ګمارلو لپاره، چې عدالت ته د ښځو او ماشومانو لاسرسي ډاډمنوي، پیاوړي هڅې یو ګام وروسته دی. یوناما په فعاله توګه خپله ونډه لوبي چې وزارت ته په دغه ډګر کې د هغو د هڅو د ملاتړ لپاره نړیوالې سرچېنې همغږي کړي او همدارنګه د سمون لپاره د مدني ټولنې شمولیت ملاتړ کوي. د شخصي امنیتي کمپنې ګانې د پروژې کار، چې باید په افغان عامه نظم ځوا ک بدل شي، ورو پر مخ ځي، چې د کورنیو چارو وزارت مرستیال د دغه پروژې د مسول په ډول او د دفتر رئیس د راپور روکولو په موده کې د خپلو دندو څخه تبدیل شوي دي.

۲۱. د افغان ځاي پولیس ځواک د کار پروژه مخ په پراخیدو ده. د اګست د میاشتې تر نیمایي پوري تر ۱۶۲۶۶ تنه زیات ځايي پولیس په ۷۱ سیمو کې فعالیت کوي. پداسې حال کې چې دغه ځايي امنیتي ځواک په زیات شمېر سیمو کې ټیکاو سره مرسته کړې، خو د دوی د معافیت، تذکیه او د واضح قوماندې او کنترول نشتون، او همدارنګه د سیاسي او یا قومی پر بنا د ملیشو بیا رامنځته کیدلو اندېښنې پیدا کړي دي. پدې اړوند یوناما د بشري حقوقو د تېري کوونکي چې ویل کیږي د صلاحیت په موقفونو کې ګمارل شوي او همدارنګه د ځايي پولیس افسرانو په اړوند د یو شمېر تېري او سرغړونې د راپورونو د رسیدلو په هکله خپله اندېښنه بیان کړې. د جولاي په ۲۳ نېټه د کندز په ولایت کې د ځايي پولیس یو قومندان هغه مهال ونیول شو چې د ده پر ضد راپور ورکړ شوي چې یوه ۱۸ کلنه ښځه یې د پنځو ورځو لپاره ځان سره ساتلې او په تکرار سره پر هغه یې تېري کړي.

۲۲. د رسمي راپورونو پر بنسټ، لږ تر لږه ۹ تنه پښتون قومي مشران د اګست په سر کې د سهیل زون د اروزګان په ولایت کې وژول شوي. په قوي ډول انګیرل کیږي چې دغه کار د هزاره ټولنې د افرادو په واسط تر سره شوي وي کوم چې خپل ځانونه یې د ځايي دفاع د نوښت افسران معرفی کړي وو. د دغه پېښې وروسته د هزاره ټولنې دوه کسان د طالبان په لاس وژل شوي دي. ځايي چارواکي د قوم پر بنسټ پارول شوي تاوتریخوالې او همدارنګه د ځینو پښتون ټولنو د ګواښ په اړوند چې ویلي که عدالت تامین نشي دوي به خپله وسله د حکومت پر ضد استعمال کړي، اندیښنه څرګند کړې دې.

۲۳. همدارنګه د بیلابیل افغان ملي امنېتي ځواکونو د لیکو څخه د خیانت او تېښتې راپورونه رسیدلې. پدې لړ کې د شمال لویدیځ حوزي د بادغیس په ولایت کې ۱۷ تنه د ځايي پولیس پرسونل د جون د میاشتې په ۲۴ نېټه د طالبانو سره یو ځای شوي او ۹۳ تنه نور هم د جولاي په ۳ نېټه مخالف خواته اوښتي. د افغان پوځ په یونیفورم کې افراد چې خپل ملګري او یا نړیوال همکاران وژنې او یا ژوبل کوي یوه د اندېښنې وړ پدیده ده چې د امنیتي انتقال په دوره کې د افغانانو او د دوی د بهرنې استازانو تر منځ نږدی همکاری او همغږي اغیزمن کوي. په دغه پېښو کې یو هم د خیتز زون د فراه په ولایت کې د اګست په ۱۷ نېټه وه چې یو په کار ګمارل شوي ځايي پولیس چې پخواني بلواګر و د خپل روزني په لومړي ورځ کې د ایساف پر پرسونل

باندي ډزې وکړ او دوه تنه يې ووژل. د افغانانو تر منځ په پېښه کې هم د سهيل لويديځ زون د نيمروز په ولايت کې د اګست په ۱۱ نېټه يو افغان پوليس افسر خپل د ملګرو ۱۰ تنه ووژل.

**ج. سيمه ييزه همکاری**

۲۴. د آسيا د زړه د هيوادونو د وزيرانو په کنفرانس کې چې د جون د مياشتې په ۱۴ نېټه په کابل داير شوي و سيمه ييزه همکاري او د اعتماد پيداکول په زياتو ډګرونو کې پرمختګ درلود چې د يو امن افغانستان لپاره د سيمه ييزه امنيت همکاري د استانبول د پروسې د وزيرانو په کچه لومړني تعيقبی کنفرانس و. د کنفرانس ګډونکوونکې د آسيا د زړه ملتونو څخه د ۱۴ هيوادونو په لوړه کچه هيتونه او د ۱۴ ملاتړ کوونکو او ۱۱ سيمه ييز نړيوال سازمانو په ګډون وو. د نورو مواردو تر څنګ ګډونوال پريکړه وکړه چې د اعتماد د رامنځته کولو د تدابير د اوه لومړيتوبونه پلی کول پر مخ ولاړ شي: د ناورين مديريت، د ترروېزم سره مبارزه، د مخدره توکو سره مبارزه، د سوداګري د خونو تر منځ همکاری، د سوداګري فرصتونه، سيمه ييز زيربناګانې او پوهنه. دغه تدابير او سمهال تيار شوي، طرحه شوي او پلې شوي.

۲۵. پدې خاطر چې د استانبول پروسې ته دوام ورکړ شي او همدارنګه د توکيو د کنفرانس څخه مخکې، په افغانستان کې د پانګوی په خاطر د هيوادونو د مشرانو غونډه د جون د مياشتې په ۲۴ نېټه په نوي دهلی کې داير شو چې د هندوستان د صنعت د کنفدراسيون له خوا بلل شوي و. د افغانستان او هندوستان لخوا کليدی وزيران استازيتوب کول چې پکې د ۵۰۰ زيات ګډونکوونکې د ۳۳ هيوادونو، ۱۵۰ هندی او ۸۵ افغانې کمپنې ګانې د افغانستان سره مرسته او د هغه د اقتصادې ودې لپاره خپل ژمنې بيان کړل.

۲۶. د جولای په ۷ نېټه د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت مرستيال د سترو چارواکو د غونډې مشرې کول چې په هغه کې ګډونکوونکو په کابل کې د سفيرانو په کچه غونډې ته کاري چوکات طرحه کړل، چې دغه غونډه د جولای په ۲۳ نېټه دايره شوه او په کې هغه هيوادونه کوم چې د اعتماد د پيداکولو بيلابيل تدابيرو کې په سر کې قرار درلودل، موافقه وکړل چې په بېړه د اړيکو لپاره د تماس استازی وټاکي او د سيمه ييزو تخنيکې ډلو سره کار وکړي چې د پلې کولو لپاره پلانونه طرح کړي. د ملګرو ملتونو د موسسو، وجهو او پروګرامونو په واسطه ملاتړ تاييد شو. د سپتمبر په ۳ نېټه د تروريزم سره د مبارزې سيمه ييز تخنيکې ډله په انقره کې خپله ناسته داير کړل چې د افغانستان، ترکيه او عرب متحد امارات هيوادونه د غونډې مشر کول.

۲۷. د جولای په ۱۹ نېټه د افغانستان ولسمشر په کابل کې د پاکستان لومړي وزير راجا پرويز اشرف او د پاکستان د بهرنيو چارو وزير حنا ربانې کهر سره وکتل. پاکستانې هيئت يو ځل بيا تاييد کړل چې دوي د سولې د پروسې ملاتړ کوي او وعده وسپارل چې دوي به داسې هڅې طرحه کړي تر څو د بين الافغانی اړيکې او خبري اترې تسهيل کړي. د جولای په ۳ نېټه د امريکا د بهرنيو چارو وزيره هلری کلنتن د خپل پاکستانې سيالې سره د ټليفون پر کرښه خبرې وکړي او هغې ته يې د ۲۰۱۱ کال د نومبر په مياشت د غميزې پېښه کې چې پکې ۲۴ پاکستانې عسکر ووژل شول خپله خواخوږی څرګنده کړه. په بله ورځ پاکستان اعلان وکړ چې افغانستان ته د ناټو د تدارکاتو لاره بيا پرانيستل شوه.

۲۸. د جولای په ۲۱ نېټه د تاجکستان هيواد د کوهستان بدخشان په ولايت کې د هغه هيواد د امنيت د وزير وژل کيدل او د هغه وروسته په دغه هيواد کې د پوځ عمليات، د افغانستان د شمال زون د بدخشان پر ولايت کې خپله اغيزه درلود. په افغانستان کې د تاجک سخت دريزو کسانو د شتون په اړه راپورونه داسې انديښنې پيدا کړ چې دوي د سيمې د بې ثباته کولو په لټه کې دي. د جولای په ۲۵ نېټه د تاجکستان ولسمشر امام علی رحمان او د افغانستان د کورنيو چارو وزير سره وليدل او د پولو د ګډ امنيت په اړوند بحث وکړل. د عملياتو پر مهال تاجکستان خپله پوله وتړل چې د هغه له امله د

بدخشان د حوزي په غربي سيمه کې د افغان اوسيدونکو تګ راتګ يې اغيزمن کړ. يوناما د پېښو په جريان کې د افغان او تاجک ولايتي قونسلي چارواکو سره تماس نيولې چې د بشري مرستو ته لاسرسی هم شامل و.

۲۹. د راپور په موده کې زما ځانګړي استازی د قزاقستان، قرغزستان او فيدراتيف روسې چارواکو سره په رسمې ډول ليدنې ترسره کړل. د جون د مياشتې په ۲۸ نېټه په آستانه کې د قزاقستان ولسمشر نورسلطان نظربايف يو ځل بيا خپل د حکومت کلک ملاتړ د سيمه ييزه همکاري په اړوند، د استانبول د پروسې د کاري چوکاټ په ګډون، اظهار کړ. د مسکو په ناستې کې چې د اګست د مياشتې په ۱۳ تر ۱۵ نېټې پوري داير شو د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګې لاوروف او نور ستر چارواکې د مخدره توکو د توليد او قاچاق په اړوند د روسې د هيواد جدی انديښنو يادونه وکړل. د سېمې بلقوه پياوړتياوي باندي تمرکز د بيشکيک د غونډې مرکزي هسته و چې د سپتمبر د ۵ تر ۷ نېټې پوري دوام وکړ.

**دريم: بشرې حقونه**

۳۰. د مې د مياشتې د لومړي نېټې څخه بيا د جولاي تر ۳۱ نېټې پوري د ثبت شوي ملکې تلفاتو په شمېر د ۲۰۱۱ کال د ورته دوري په پرتله ۴ سلنه کمښت شې. يوناما د ملکې تلفاتو ۲۳۷۸ مورده (۹۳۰ تنه وژل شوي او ۱۴۴۸ تنه ژوبل شوي) د دريو مياشتو د راپور ورکولو په موده کې ثبت کړي چې دغه شمېره د ۲۰۱۱ کال په ورته موده کې ۲۴۶۶ مورده (۱۰۲۹ تنه وژل شوي او ۱۴۳۷ تنه ژوبل شوي) و. په ثبت شوي پېښو کې په ځانګړي ډول د ځانمرګې بريدونو او د حکومت پلوه ځواکونو او د حکومت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنې شخړې له امله ملکې تلفاتو کې کمښت راغلې. بلواګر د ملکې تلفاتو ۸۵ سلنه مسوليت لري پداسې حال کې چې دغه فيصدې د تېر کال په ورته موده کې ۷۸ سلنه و، او د حکومت پلوه ځواکونه د ۷ سلنې مسوليت په غاړه لري چې د تېر کال په ورته موده کې ۱۲ سلنه و. کابو د ملکې تلفاتو ۹ سلنه تثبيت نشو چې په کومه ډله منسوب شي.

۳۱. کوم پيغام چې ويل کيږي د ملا عمر لخوا و خپور شوي او پدي پيغام کې طالبانو ته ويلې چې د کوچنې اختر په مناسب چې د روژي د مياشتې وروسته راځې، ملکې وګړو ته ضرر و نه رسوي چې دغه کار يې د دينې دندي په اصطلاح ياد کړي. په ورته عمل کې د حزب اسلامې ډلې مشر ګلبدين حکمتيار هم په دغه مناسبت يو عمومې پيغام خپور کړي چې په هغه کې د ملکې وګړو پر خونديتوب اصرار شوي. خو د دغو اعلاميو پر خلاف، پر عامه وګړو ميشت ځايونو کې بريدونه دوام درلود او د ملکې کسانو په هدفې وژنو کې زياتوالی راغې. د روژي په مياشت کې لږ تر لږه ۵ بريدونه تر سره شول چې پکې مسجدونه او ملا امان په نښه شول. تر دې مودي د ۲۰۱۲ کال تر ټولو خونړي ورځ د اګست د مياشتې ۱۴ نېټه وه چې په ټول هيواد کې د تاوتريخوالې څخه ډک پېښې ثبت شول چې زيات سودا اخيستونکې په نښه شول او د دغو پېښو له امله تر ۲۰۰ زيات ملکې کسانو ته مرګ ژوبله واوښت. په هغه پېښه کې چې د اګست د مياشتې په ۲۷ نېټه د هلمند په ولايت کې تر سره شوه، د دوو ښځو په ګډون ۱۷ تنه ملکيان په وحشتناک ډول سره ووژل شول چې د يو شمېر سرونه ورڅخه پري شوي وو. يوناما په خپل خپور شوي اعلاميه کې دغه شرمناک عمل په کلکو الفاظو وغندل او وغوښتل چې د دغه عمل مرتکبين دې عدالت ته وسپارل شي. د سپتمبر په ۱ لومړي نېټه د ميدان رودګ د سيدآباد په ولسوالی کې دوه پر له پسې ځانمرګې بريدونه لږ تر لږه اته تنه ملکې وګړي يې ووژل. د هغه وروسته يو ځانمرګې بريد کوونکې چې د چاوديدونکو توکو يو ستر لاري موټر ته انفجار ورکړ، د ولسوالې اداري تعمير يې د ځمکې سره هوار او د هغه شاوخوا تعميرونه يې تخريب کړ.

۳۲. د مې د مياشتې د ۱ نېټې څخه بيا د جولاي د مياشتې تر ۳۱ نېټې پوري د ملکې کسانو هدفې وژنې، د حکومت د مامورينو او کارکوونکو، د ټولنو مشرانو او دينې فعالينو په ګډون، زياتوالې راغې چې ۲۳۱ تنه يې ووژل او ۱۳۹ تنه يې ژوبل کړل.

دغه شمېره د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله ۸۸ سلنه زیاتوالي ښيي په کوم کې چې ۱۶۲ تنه وژل شوي او ۳۵ تنه ژوبل شوي وو. د ژوبل شويو ملکي کسانو کې درې چنده زياتوالی پدې معنی ده چې په هدفي وژنو کې په زياته پيمانه د تعبيه شوي چاوديدونکي توکو څخه کار اخيستل شوي. د جولای په ۱۳ نېټه د لغمان ولايت د ښځو د چارو رياست حنيفه صافي د لېرې واټن څخه دکنټرول شوي چاوديدونکو توکو په واسطه ووژله شوه او د هغې د کورنۍ غړي ژوبل شول. په يو بل ځانمرګي برید کې چې د جولای په ۱۴ نېټه د شمال زون په سمنګان ولايت کې د واده په مراسم کې تر سره شو په هغه کې د ځايي با نفوذ شخص او د پارلمان غړي احمد خان سمنګاني، چې اصلی هدف و، برسيره د ولايت امنيه قومندان او د ولايت د ملي امنيت رياست رئیس او ۲۳ تنه نور هم ووژل شول. د دغه پېښې مسوليت هيڅ کوم بلواګره ډله وانخيست خو د مرتکب او انګېزې مخالف انګېرنې داسې دي چې پېچلې داخلي تنظيمي او د تنظيم څخه بهر کشالې د دغه پېښې لامل شوي. د حکومت پلوه ځواکونو لخوا وارد شوی ملکي تلفات د هوايي بريدونو، د شپې لخوا عملیات او نور پوځي عمليات له امله دي چې ډېر ټېټ شوي دي. هوايي بريدونه بيا هم د هر بل پوځي تاکتيک په پرتله زيات ملکي تلفات اړولي چې د حکومت پلوه ځواکونو لخوا کارول کيږي.

۳۳. دوديز ناوړه کردارونه چې زياتره ښځې او نجونې له هغه اغيزمن کيږي اوس هم د يو ځاې ستونزې په ډول پاتې دی. وروسته له هغه چې د ځايي ښځو ډلې او مدني ټولنه په پراخه پيمانه د جون د مياشتې په ۲۴ نېټه اعتراضات وکړل، د عدلیې وزير د خپل هغه نظر څخه معذرت وغوښتل چې د ښځو د امن خونو ته د بد اخلاقی ځايونو په نوم ياد کړي و. يوناما يو ځل بيا د دغو امن خونو د ملاتړ اعلان کړ چې افغان ښځو او نجونو ته اساسي ملاتړ آماده کوي. همدا راز يوناما خپله اندېښنه په افغانستان کې په دوامدار توګه د ښځو د ناموسي او عدالت پرته وژنو په اړوند اندېښنه څرګند کړي. د جولای د مياشتې په سره کې د پروان په ولايت کې د طالبانو په لاس د زنا په تور د يوه ۲۲ کلنې ښځې په عام محضر کې وژل فلم ثبت شوي چې نړيوال غصه يې راپارولې. د مدني ټولنو سازمانونه خپل وېره څرګند کړي چې د نړيوال پوځ وتل، په تېره لسيزه کې د افغان ښځو لاسته راوړنې په سخته به اغيزمن کړي. د جولای په ۲۴ نېټه د دغو ډلو کنسرسيوم يو اعلاميه خپور کړي چې په هغه کې د ښځو په وړاندې تاوتريخوالي، د هغه لاملونه او ناوړه پايلې د ځانګړې راپور ورکوونکې څخه غوښتل شوي چې د افغانستان څخه ليدنه وکړي.

۳۴. د لابيګري فعالين په حواله چې د ښځو د مدني ټولنو د ډلو لخوا حمايه کيږي، څو تنه چارواکې، د لوګر ولايت د محبس مدير چې په ۲۰۱۰ کال کې پر يوې ۱۵ نجلۍ باندې په جنسي تېري متهم او په ۱۶ کاله بند محکوم شوي و په ګډون، د ښځو په وړاندی د تاوتريخوالي په تور تر عدلي تعقيب لاندې نيول شوي دي. د جولای په ۱۷ او ۱۸ نېټه د ان-سولې شبکه، يو جريان دی چې د سولې په ايجاد کې د ښځو د مشرتوب ملاتړ کوي، په کابل کې پيل شو. دغه ناسته چې د ملګرو ملتونو لخوا تسهيل شوی و، ۳۵ ښځينه مشران سره را ټول شوي وو او هوکړه وکړې چې د سولې پروسه او عدالت ته لاسرسې د ان-سولې د ۲۰۱۲ – ۲۰۱۳ کال د عمل په پلان کې بېړنۍ لومړيتوبونه دي.

۳۵. د جون په ۲۷ نېټه د رسنيو د ناظر موسسه (نی په افغانستان کې د آزاد رسنيو ملاتړ کوونکې) او يو شمېر ژورنالستان، ټولنو او اتحاديو، د يوناما په ملاتړ، د ټول هيواد څخه د رسنيو د استازو غونډه جوړه کړه چې د رسنيو د قانون پر تعديل شوي مسوده بحث وکړي. داسې اندېښنې شته چې دغه وړانديز د اطلات او کلتور وزارت لخوا شوي او د دې خطر شته چې د بيان آزادی محدود او پر رسنيو باندې د حکومت کنټرول زيات شي. د ولسمشر د جولای د مياشتې په ۲۷ نېټې فرمان کې داسې ژبه کارول شوي چې په بلقوه ډول مهم معلومات ته د لاسرسی حق محدودوي، او همدارنګه رسنيو ته هدايت ورکړ شوي چې د "حکومت ضد پروپاګند او يا هر هغه بل شي چې ځوانانو ته منفي انګېزه وکړي او يا په ناسم ډول رهبري کړي، څخه ډډه وکړي".

**څلورم: د کابل د پروسې پلې کول او د مرستو ثابت دوام**

۳۶. د جولای ۲۶ نېټه د توکیو د کنفرانس په تعقیب د نظارت او همغږي ګډ بورد، چې د یوناما او د افغانستان د حکومت لخوا په ګډه ریاست کیده، تدویر شو او د افغان حکومت " د خود کفایي په لور - د بدلون په لسیزه کې ستراتیژیک لیرلید" تر عنوان لاندې سند او د پنځه ملي لومړیتوبونو پروګرام تصویب کړل. په دغه سند کې د افغانستان د حکومت لپاره لار نخښه طرحه شوې چې یو کاملاً فعال او باثباته دولت جوړ کړي چې د خپل خلکو لپاره خدمت وکړي. دغه سند پر دې تمرکز لري چې په دوامداره توګه پر بهرنیو مرستو باندی اتکا کم کړي او حکومت ژمنه کوي چې د بشري انکشاف او د زریزې پرمختیایي اهداف تر لاسه کړي.

۳۷. د توکیو اعلامیه او د توکیو کاري چوکاټ چې په کنفرانس کې تایید شو، پر پنځه کلیدي ډګرونو کې د حکومت په ژمنو باندې تمرکز لری: دیموکراسي او برابر ټاکنې؛ د قانون حاکمیت او بشري حقونه - د ښځو پر حقونو باندې د ځانګړي تمرکز په ګډون؛ مالي او تجارتي بانکداری؛ د بودجې ترتیبول او ولایتي حکومتداری؛ او دومداره او پراخ بنسټه وده. په ورته توګه نړیواله ټولنه هم خپله ژمنه بیا تکرار کړل چې دوي به د خپلو پرمختیایي مرستو ۵۰ سلنه د افغانستان د حکومت د ملي بودجې له لارې وکاروي او د خپلو نورو مرستو ۸۰ سلنه د ملي لومړیتوب پروګرامونو سره سم کړي او د افغانستان حکومت، د نظارت او همغږي د بورډ له لارې، خپل د مرستو د مدیریت پالیسي د ۲۰۱۲ کال د دسمبر تر میاشتې پورې نهایي او نافذ کړي.

۳۸. د ډونرانو په غونډه کې چې د جولای په ۳۱ نېټه په کابل کې دایره شوه، د مالیې وزیر د توکیو د کاري چوکاټ د پلې کولو لپاره یو سند وړاندې کړ. نړیواله ټولنه د سند څخه خوښي څرګند کړل او هغه یې د توکیو وروسته د اجنډا په جوړولو کې چې په واضح ډول پر متقابل حسابورکووني باندې تمرکز ولري، مثبت ګام وګڼل. دغه سند ته به نور هم انکشاف ورکول کیږی چې په هغه کې، د دوامداره ډیالوګ پالیسي لپاره، د مرستو پر مناسب ساختار باندې تمرکز، د نظارت او همغږي د بورد کار به دوام مومي. تر نن ورځ پورې د بورد لخوا د ملي لومړیتوبونو ۱۶ پروګرامونه تایید شوي چې دا په خپله د افغانستان د حکومت او د هغه د نړیوالو شریکانو تر منځ د لومړیتوبونو په سکتور کې د پالیسۍ په تعیینولو کې اتفاق څرګندوي.

۳۹. مدنې ټولنه د توکیو د کنفرانس په تیاري او همدارنګه د توکیو کنفرانس په بحثونو کې پیاوړې او رغنده ونډه لوبولې. په دغه پلاتفورم کې ۲۵ ځایي سازمانونه، د سترو سازمانونو، د ښځو بیلابیلې ډلې، د سوداګري عمده اتحادیه او د ځوانانو یو سازمان په ګډون، د مدنې ټولنې ګډه کاري ډله جوړه کړي وه. دغه ډله توکیو ته د استولو لپاره د افغان مدنې ټولنې هئیت وټاکل، د جاپان د غیردولتې موسسو د رهبری کمېټې سره تماس درلود او د خپل موقف سند یې تسوید کړ چې په هغه کې پر امنیت، حسابورکونه، ښه حکومتداری باندې ټینګار شوي وو چې د با ثباته پراختیا لپاره اړینه ده او وغوښتل چې مدنې ټولنه باید د افغانستان په ځان اتکا پروګرام کې رغنده ونډه ولوبوي.

۴۰. د جون په ۲۹ نېټه د پیسو نړیوال صندوق اجرائیوي بورد د پراخ کریډیت د ترتیبات آسانتیاو تر چتر لاندې د افغانستان د اقتصادي اجراات لومړني بیاکتنه بشپړ کړ. د سمون د موخو په اړوند تر سره شوي پرمختګونه په ګوته شوي. د کابل بانک په مسله کې (کله چې د بانک د روڼتیا په اړوند اندېښنې په ۲۰۱۰ کال کې د دغه بانک څخه د زیاتو پیسو د ایستلو، د هغه کنټرول او د بانک د تصفیې د مدیریت د ایجادولو لامل شو) افغان چارواکې راپور ورکړي چې نوري نغدي پیسې هم تر لاسه شوي. که څه هم د بانک هیڅ یو شریک خپل پور په بشپړ ډول ندي ورکړي، د دوي قضیې ځانګړي دیوان ته او د مالي تنازع د حل کمیسیون ته راجع شوي.

**پنځم: حکومتداری او د قانون حاکمیت**

۴۱. د توکیو د کنفرانس نه مخکې، یوناما د ډونرانو تر منځ مشورتي غونډي تسهیل کړي چې د ځایي حکومتداري په اړوند د ملي لومړیتوبونو د پروګرام، چې د جون په ۲۶ نېټه تایید شوي وو، د نهایي کولو سره مرسته وکړي. د ولایتي حکومتداری ملاتړ ډیر مهم دی ځکه چې د ولایتي بیارغونې ټیمونه خپل کارونه بند کړي. یوناما د حکومت سره مرسته کوي چې د پلې کولو پلانونو ته وده ورکړي او همغږي کړي تر څو د حسابورکوونې او روڼتیا او اغیزمنه او موثره حکومتوالۍ پروګرامونه نهایي او تایید کړي.

۴۲. د اداري فساد په وړاندي د مبارزي په خاطر د نهاد د هڅو لپاره په یو بل انکشاف کې د اداري فساد پرضد د نظارت او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه د جولای په میاشت کې خپل ټول پنځه تنه غړي سره په کار پیل کړ. د کمېټې نړیوال غړي د جولای د ۶ تر ۲۰ نېټې پوري د افغانستان څخه لیدنه وکړل چې د کمېټې د شپږم ماموریت یوه برخه و، چې په هغه کې د حکومت د چارواکو، د نړیوالې ټولنې استازي او د مدني ټولنو د سازمانونو سره مشوري شامل وو. کمېټه ۱۷ نور اضافي معیارونه او توصیي تایید کړ چې په ترتیب سره هر یو ۷۳ او ۷۴ ته ورسید. په توصیه شوي تدابیر کې د مدني ټولنې د نظارت د ونډه پیاوړی کول، د پولو لا زیات کنټرول او نظارت، د عامه پوهاوي کمپاین چې پر مذهبي جوړښتونو باندي د فاسدو کړونو پر ضد تمرکز وکړي، د فرعي قرارداد محدودیت رعایتول او د ځانګړو پروژو او سازمانونو چېرته چې کنټرول توصیه شوي واضح کول، شامل دي.

۴۳. که څه هم د قانون او عدالت د ټولو لپاره د ملي لومړیتوب پروګرام د نهایي کولو لپاره هڅې دوام درلود، خو تمه نکیږي چې د اکتوبر په میاشت کې د نظارت او همغږي ګډ بورد بیا کتل شوي مسوده د تایید لپاره آماده کړي. په داسې حال کې چې جوته ده چې د عدلي سکتور پیچلتیا د داسې پروګرامونو طرحه په ځانګړي ډول ستونزمنوي، دا موضوع د اندیښنې وړ ده چې د کابل د کنفرانس څخه دوه کاله وروسته په دغه ډیره مهمه عرصه کې تر نن ورځ پوري هیڅ کوم پروګرام ندی پلې شوی. په عین حال کې یوناما د ډونرانو سره کار کوي چې د عدالت د پروګرام د ملاتړ لپاره د حکومت سره د تمې وړ مرسته وکړي. د جزایي اجراتو نوي ګُد د جون په ۳۰ نېټه ملي شورا ته وړاندي شو او تمه ده چې ډیر ژر به د قانون جوړونې په اجندا کې شامل شي. په دغه دوره کې د جزا د ګُد د بیا کتنې لپاره څو کاري ډلې رامنځته شوي. د نوي قاضی القضات انتصاب او د ستری محکمې د یوې غړي ټاکل، چې د کار موده یې دوه کاله مخکې پای ته رسیدلې، لا تر اوسه ندي مقرر شوي.

۴۴. د پروان د بندي خانې څخه، چې د متحده ایالاتو د پوځ تر کنټرول لاندي دی، د افغان حکومت ته د بندیانو انتقال د ۲۰۱۲ کال د مارچ د میاشتې په ۲۰ نېټه د دو حکومتونو تر منځ د امضا شوی د پوهاوي یاددښت پر بنسټ دوام لري. کابو ۱۰۰ تنه د مراحق بندیان د کابل د نوو ځوانانو د تربیه او سمون مرکز ته انتقال شوي چې په دغه ځاي کې د زیاتي ګڼګوڼې او امنیتي خطرات په ګوته کړي ځکه چې دغه مرکز د دي ظرفیت لپاره ندي جوړ شوي چې په هغه کې د لوړو خطراتو مراحق نوي ځوانان وساتل شي. یوناما حکومت ته ویلي چې اړتیا ده دغه ډله د نورو مراحق ډلو څخه بیل وساتل شي او د اضافي امنیتي تدبیرونو آماده کول هم ډاډمن کړي.

**۶. پرمختګ او بشري مرسته**

۴۵.	د ۲۰۱۲ کال په جون کې د افغانستان د عامې روغتیا وزیر د نړۍ په کچه د خپل سیالانو سره یو ځای شو او د ماشومانو د مخنیوي کیدونکې مړینې د ختمولو لپاره د ملاتړ مرسته لاسلیک کړ چې د ملګرو ملتونو د عمومې منشي د هر مور هر ماشوم د نوښت سره سمون لري. د مرستې دغه وعده د ماشومانو لپاره د افغان ملی عمل پلان کې د ماشومانو ژوندي پاتې کیدو، د څارني پایلې به نور هم ګړندې کړي او د وروسته پاته هلکانو او آسیب پذیره ماشومانو باندي تمرکز لا هم زیات کړي. د جون په ۲۷ نېټه د احصایي مرکزي اداره د ۲۰۱۰ – ۲۰۱۱ کلونو لپاره د څو شاخصه کلستری/ډله ییز سروي پایلې خپور کړ. دغه سروي چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ تر سره شوي، ښودلې چې تر ۵ کلنې څخه ټېټ کابو ۱ میلیون ماشومان په جدي خوار ځواکې اخته دي. کله چې د سروي پایلې د مخکنې سروي سره چې په ۲۰۰۳ کې ترسره شوي و، مقایسه شول د ښځو او ماشومانو په اکثریت شاخصونو کې ستر پرمختګ لیدل شوي. د وګړو ۵۷ سلنه د څکلو ښو ابوو ته لاسرسي لري او د هلکانو ۶۳ سلنه او نجونو ۴۶ سلنه چې د ابتدایه ښوونځي په عمر کې دې مکتب ته ځي. خو په عین حال په ځینو شاخصونو کې د لاسرسي ژور تفاوت پاتې دی: په ۲۰۰۸ – ۲۰۰۹ کلونو کې روغتیایي پرسونل د ښځو ۷۴ سلنې ته د زیږون په وخت کې حاضر وو، پداسې حال کې چې دغه میزان په لېرې پرتو سېمو کې ۳۰.۵ سلنې ته ټېټ شوي. د ښځو د زده کړي کچه کابو د ټولو شاخصونو څخه ډیره د باور وړ وړاندوینه ده: د ساري په ډول د متوسطه او لوړو زده کړو ښځې ۴۵ سلنه زنانه مراقبتونو تر لاسه لري چې د دوي په پرتله د بیسواده ښځو میزان ۱۱.۸ سلنه دی.

۴۶.	د تغذیې د عمل کاری چوکاټ فعالکول چې د مور او ماشوم خوار ځواکې سره مبارزه وکړي د ولسمشر دوهم مرستیال کریم خلیلی له خوا ملاتړ شوی او دی به د هغه پلې کول څاري. دغه کاري چوکاټ چې د پوهنې، عامې روغتیا، سوادګري، کرهني او کلیو بیارغوني د وزارتونو لخوا طرحه او د ملګرو ملتونو او نړیوال بانک لخوا ملاتړ کیږي، هدف یې دا دی چې  د ماشومانو د ناسم ودي څخه مخنیوي وکړي او د امیداوری وروسته د ۱۰۰۰ ورځو لپاره دوام وکړي. د جولاي په ۲۳ او ۲۴ نېټه د پولیو ناروغي د افغان او پاکستانې چارواکو تر منځ په کابل کې د غونډې د بحث موضوع و. د اګست په میاشت کې د ثبت شوي دیټا پر بنسټ په ۲۰۱۲ کال په افغانستان کې د پولیو ۱۷ قضیې تایید شوي چې زیاتره د هلمند، قندهار او کنړ په ولایتونو کې ثبت شوي. دغه ناسته چې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت په بلنه شوي و، ګډونکوونکو یو ګډ پلان طرحه کړل چې پر پولو باندي په نا امنه سېمو کې د ماشومانو واکسین او همدارنګه د افغانستان او پاکستان ته د تګ راتګ په وخت کې د ماشومانو د واکسین په ګډون، د پرلو پر دواړ خوا همغږي پیاوړي کړي.

۴۷.	ملګري ملتونه د مهاجرینو چارو، د کلیو بیارغونې، کرهنې او کار او ټولنیزو چارو وزارتو سره په ګډه د مهاجرینو لپاره د خپلې خوښې بېرته راتګ او بیا ادغام ګډ پروګرام نهایي کوي کوم چې د ۲۰۱۲ کال د مې په میاشت کې د افغان مهاجرینو د افغان کمپونینټ د حل ستراتیژې به پلې کړي چې د دوي د خپلې خوښې بېرته راتګ، ثابت بیا ادغام او د کوربه هیوادونو سره ملاتړ ډاډمن کړي. دغه کمپونینټ چې د حکومت لخوا مدیریت کیږې، د ملې لومړیتوبونو د پروګرام تر چوکاټ لاندي او د ټولنو پر بنسټ تګلاري له طریقه د ثابت بیا ادغام کړنلاره تعقیبوي. د دي موخه دا دی چې په ۴۸ د زیاتو بېرته راستنیدونکو سیمو کې د څلور کلونو څخه په زیاته موده کې اساسې خدمتونو، د ژوند بدیل فرصتونو، تحفظ او نهادونو ته لاسرسی لا پسې ښه کړي.

۴۸. د افغان مهاجرينو او داخلې بېځايه شوو کسانو د ثابت بېرته راتګ او بيا ادغام اهميت د توکيو د کنفرانس په څنډه کې د مهاجرينو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنري د دفتر لخوا سپانسر شوي ستر پيښه کې او همدارنګه د توکيو په اعلاميه کې ښه روښانه شوي دی. په عين حال کې د آسيا د زړه هيوادونوو د وزيرانو په کنفرانس کې، ګډونکوونکو د لومړيتوبونو پر اساس د استانبول د پروسې په بل پړاو کې د مهاجرينو په اړوند د اعتماد رامنځته کولو تدبير پلې کول، توصيه کړل.

۴۹. د جون تر ۳۰ نېټې پورې کابو ۴۲۵۰۰۰ کسان (کابو ۶۵۰۰۰ کورنۍ) د جګړو له امله بېځايه شوی، چې د دغه شمير څخه کابو يو پر څلورمه برخه نوي په ۲۰۱۲ کال کې بېځايه شوي (د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله ۱۴ سلنه زياتوالی ښيي). د داخلې بېځايه شويو په شمير کې د زياتوالي له امله حکومت د مهاجرينو او بېرته راستنيدونکو چارو وزارت څخه غوښتنه کړې چې د بېځايه کيدو پر ضد ملي پاليسې طرحه کړي چې بېځايه کيدو عوامل پر ضد مبارزه وکړي او د هغه د مخنيوي، تحفظ او مرستو لاري چاري پياوړي تر څو د دوامدار حل لاره پيدا شي. د دغه هراړخيز تګلاري د ملاتړ په خاطر او د عمده برخوالو د پوهاوي د زياتولو لپاره، د ولايتي چارواکو او د بېځايه شوو کسانو د استازي په ګډون، د جولاي په ۱۴ او ۱۵ نېټه ملي مشورتي ورکشاپ جوړ شوي و. په دغه ورکشاپ کې د داخلې بېځايه کيدونکو کسانو د بشري حقونو ځانګړي راپور ورکوونکې، کله چې د خپل ماموريت په دوره کې په افغانستان کې و، هم حضور درلود چې د دغه نوي پاليسې لپاره سياسي ملاتړ زيات کړي. د اګست په ۲۹ نېټه زما د ځانګړي استازي د بشري مرستو په عرصه کې مرستيال د جلال آباد له ښار څخه ليدنه کړي چې په ځانګړي ډول د هغو سلګونو داخلې بېځايه شويو کورنيو باندې بحث وکړي کوم چې په دې ورستيو کې د امنيتې لاملونو له کبله د کنړ ولايت څخه بېځايه شويدي.

۵۰. طبيعی ناورينونه لکه سيلاب، زلزلې، برف کوچونه، ډېره يخه هوا، ځمکه ښويدنه او د لاي او خټو جريان په دوامداره توګه د افغانستان د وګړو، له اوله زيانمنه طبقه، نوره هم اغيزمن کوي. ملګري ملتونه د جون د ۱ نېټې بيا د جولاي تر ۳۱ نېټې پورې په ۵۷ ولسوالی ګانو کې ۵۸ طبيعی ناورينونه ثبت کړي چې ۳۱۷۸۳ تنه تری اغيزمن شوي، ۱۱۶ تنه وژل شوي او ۲۰۴۶ کورونه ويجاړ شويدي. يوه د خوشحالي خبره دا ده چې د ۲۰۱۱ کال د وچکالي وروسته، د کرهنی، مالداري او ابو لګولو وزارت اټکل کړي چې په ۲۰۱۲ کال کې د ملی حبوباتو د توليد کچه ۶.۳ ميليون ټن ته به ورسيږي، چې دا به په تيرو ۳۵ کلونو کې تر ټولو ستر دوم د کرهنيزو محصولات راټولول وي چې د ۲۰۱۱ کال د ورته موسم په پرتله ۴۲ سلنه زياتوالي ښيې.

**اووم: د مخدره توکو سره مبارزه**

۵۱. د جون په ۲۶ نېټه د نظارت او هغېري بورد د مخدره توکو په وړاندي د ارزوني ميکانيزم تاييد کړ چې د مخدره توکو په وړاندی د مبارزی وزارت او ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر سره په ګډه به رياست کيږي. دغه ميکانيزم د خپل لومړيتوب په حيث، د موجوده ملي لومړيتوبونو په پروګرام کې د مخدره توکو په وړاندي د مبارزی ټول فعاليتونه نقشه کړي چې د مخدره توکو په وړاندي د مبارزی د پايلو سره مرتبط دي. وزارت به همدارنګه اوس د بورد په غونډو کې د هغه په دايمې کمېټه کې او همدارنګه د کابل پروسي په اړوند فورم کې استازيتوب کوي. د ميکانيزم کار او پريکړې به د بيا کتل شوی مخدره

توکو ملي ستراتیژي او د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت موجوده کړنلاري، د معیشت بدیل، د مخدره توکو د تقاضا کمول، د قانون تنفیذ، عامه پوهاوي او د نهادونه رامنځته کولو په ګډون، په ملاتړ تر سره کیږي.

۵۲. د جون په ۲۰ نېټه دغه وزارت د مخدره توکو د ناوړه ګټه اخیستني او ناقانونه قاچاق پر ضد نړیواله ورځ د یو محفل په ترڅ کې د کابل په امانې لیسې کې ونماځل چې په هغه کې ملی او بین المللی لوړ پوري چارواکي حضور درلود. د مخدره توکو پر ضد د مبارزې وزیر ضرار احمد مُقبِل ټینګار وکړ چې اړتیا ده تر څو د پریکرسر کیمیاوي توکو د کنټرول لپاره سیمه ییز او نړیوال هڅې لا هم پسې پیاوړي شي. اټکل شوي چې په ۲۰۱۲ کال کې د حکومت څواکونه کابو ۱۰۲۸۲ هکتاره ځمکه (د بدخشان ولایت شمیر پکې شامل ندي ځکه چې د کیفیت کنټرول لا هم دوام لري) د کوکنارو څخه پاکه کړې چې دغه شمیره د ۲۰۱۱ کاله په پرتله ۱۷۰ سلنه زیاتوالې ښي چې په تېر کال ۳۸۱۰ هکتاره ځمکه وه.

۵۳. د جون په ۲۷ نېټه په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر د افغانستان د حکومت سره د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې لپاره د سیمه ییز همکاری په اړوند معلوماتي ناستې تر سره کړې چې موخه یې د افغانستان حکومت او د هغه د ګاونډیو سره ملاتړ پیاوړي کړي تر څو د هوکړه شوي سیمه ییز همکاري اهداف په ځانګړو عملونو تبدیل کړي. دغه غونډه چې ملګرو ملتونو د مخدره توکو سره د مبارزی دفتر د اجراییوی رئیس لخوا ریاست کیده په هغه کې د مخدره توکو سره د مبارزې وزیر او د تاجکستان هیواد د مخدره توکو د کنټرول د اداري رئیس ګډون درلود. په بحث کې دا شامل و چې موجوده عملیاتې هڅې د ساري په ډول د افغانستان، پاکستان او ایران هیوادونو تر منځ دري اړخیز نوښت او نور سېمه ییز میکانیزمونه پیاوړي شي.

**اتم: د ماموریت ملاتړ**

۵۴. یوناما په دوامداره توګه د ماموریت جوړښت ته بدلون ورکوي تر څو د موجوده مالي چاپیریال، امنیت او سیاسي تقاضا پر بنسټ خپله سپارل شوي دنده په ښه توګه تر سره کړي چې دغه کار د هراړخیز تر سره شوي بیا کتنې د پایلو پر بنسټ، چې د امنیت شورا د ۱۹۷۴ (۲۰۱۱) پریکړه لیک او ورپسې د شورا په واسطه د ماموریت نوي کیده، د شورا د ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) د پریکړې په بنسټ، او د مالي بودجې کچې چې د عمومی مجمعې د ۲۴۸/۶۶ پریکړې پر بنسټ ځانګړې سیاسي ماموریتونو ته تایید شوي، په رڼا کړې تر سره کړي. د ۲۰۱۳ کال په بودجه کې زیات کمښت، اوس اټکل شوي چې ۱۸ او یا ۱۹ سلنه وي، هیله کیږی چې د ۲۰۱۲ – ۲۰۱۳ کلونو د بودجې لپاره، چې د عمومي مجمعي لخوا تایید شوي، ټول مالي ضرورتونه پوره کړي، په بحث کې استعجالیت او واضح مالي محدود کوونکي فکتورونه اضافه کړي. په ماموریت کې دننه او همدارنګه د هیواد په کچه د ملګرو ملتونو د ټیم سره مشوري تر سره شوي چې دغه بدلون د ملګرو ملتونو د سیسټم ته په عمومي ډول کومې اغیزې ولري. د کارکوونکو کمښت او لږې سرچینې به هرومرو عملیاتی ظرفیت اغیزمن کړي چې پر کلیدي ستراتیژیک اهدافو باندی تمرکز اړین کوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیسټم د پروګرام اهمیت عملي کړی تر څو، د خپلو اړوند ماموریتونو د موثر، اغیزمن او خوندي دندو تر سره کولو برسیره، د ماموریت او د هیواد په کچه د ملګرو ملتونو د ټیم اساسی فعالیتونو باندي بیا کتنه تر سره او له سره تعریف کړي.

۵۵.	د ماموریت د جوړښت په بدلون کې د نهو ولایتي دفترونو تړل، د تایید شوي نړیوالو او داخلي کار کوونکو کابو ۲۵ سلنه (۶۲۹ بستونه) تنقیص او د ماموریت د هوایي چوپړ په شمېر کې کمښت، د ۱۰ څخه ۷ ته، په ګډون د ماموریت د لوژستیکي ملاتړ منظم کول شامل دي. په موجوده حالت کې د تایید شوي پولیس او پوځي مشاروینو شمېر باندي هم بیا کتنه شوي او کم شوي. د راپور په دوره کې د بادغیس، غور، نیمروز او زابل ولایتي دفترونه تړل شوي او د دایکُندي، کنړ، سرپل، تخار او اروزګان ولایتي دفترونه به د ۲۰۱۲ کال تر پایه پوري وتړل شي. د ځینو دفترونو تعمیرونه به د نورو موسسو، وجهو او پروګرامونو لخوا ونیول شي چې د غور ولایت د یوناما دفتر تعیمر یو له هغو څخه دی. په ملي کچه خلکو ته د یوناما لاسرسی د ماموریت د دندو د اصلي فعالیتونو څخه ګڼل کیږي چې اوس مهال به نور هم په انعطاف پذیر ډول سره تر سره شي او حوزه وی دفترونه د ښو لوژستیکي ظرفیتونو په درلودلو سره د یو هب په ډول، چېرته چې ممکنه وي، خپل ګاونډي ولایتونه به تر خپل پوښښ لاندي ونیسي.

۵۶.	څرنګه چې په تېر کې په هغو مهمو ځاینونو کې د کارکوونکو د تحفظ  او خوندیتوب لپاره کار اړین و، پر کلیدی جوړښتونو باندي پانګونه پلان شوی و، پر هغو باندي کار دوام لري. پدې اړوند د بلخ او بامیان ولایتونو پر دفترونو باندي کار روان دی او تمه کیږی چې د اکتوبر تر پایه پوري بشپړ او فعال شي. یوازني نوي ساختاري پانګونه چې په پام کې دی، د امنیتي دلالیلونو پر بنسټ، د کندز ولایت د یوناما دفتر، نوي کمپوند ته د هغه انتقال دی. یوناما به خپل ځینې دندې د کویت دفتر ته انتقال کړي. په دغه اړوند، په عراق کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوي د دفتر سره، د یو واحد اداری دفتر رامنځته کول، چې د دواړو دفترونو مالي او اداري چاري پرمخ بوزي د لومړي پړاو برخه دی.

۵۷.	د دفتر د جوړښت پیشنهاد شوي بدلون کې د ملکي چارو نوي څانګه ایجادول هم شامل دی چې د ماموریت د حکومتداری او انکشافي څانګې یو بل سره مدغم کوي. د دي برسېره د ماشومانو د ساتني څانګه به د بشری حقونو په څانګه کې مدغم شي، پداسې حال کې چې د ماشومان په وسله واله جګړه کې د عمومي منشي د ځانګړي استازي تړول اړین راپور ورکولو دندي به په غاړه ولري. یوناما او د ملګرو ملتونو انکشافي پروګرام به د قضا په سکتور کې یو بل سره مرسته وکړي، چې د قانون د حاکمیت او د سوله ساتې عملیاتو ریاست او د ملګرو ملتونو د انکشافي پروګرام ګډ رهنمود په رڼا کې وي، چې د ولایتونو په کچه د دوي ستراتیژیک همکاري به لا زیات پیاوړي وي. د یوناما د روزنې څانګه به د خپل ځایي او حوزوی همکارانو سره کار ته دوام ورکوي تر څو ملي ظرفیت ایجاد کړي او ماموریت ته د نړیوالو کنسلتنتانو د را جلبولو لپاره متمرکزي هڅي وکړي.

**نهم: مشاهدات**

۵۸.	د توکیو کنفرانس د افغانستان د حکومت او د نړیوالې ټولنې ژمنې په یو دوامداره مشارکت سره یو ځای کړ. هغه متقابل مسولیتونه چې په بن، جرمني کې، په ۲۰۰۱ کال د دسمبر په میاشت کې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو خبرو کې وشوي، او د ۲۰۱۲ کال د مې په میاشت په شیکاګو، امریکا متحده ایالاتو کې د افغانستان په هکله د ناټو د مشرانو په بحث کې بیا تکرار شول، اوس د توکیو په کاري چوکاټ کې بشپړ شو. زه حکومت ته په ناسته کې د ډېر ښه تیاري لپاره او همدارنګه د ناستې د پایلې د پلي کولو کې د رجحاناتو طرحه کولو پخاطر مبارکي وایم، او د نړیوالو شریکانو د سخاوتمندانه وعدو په اړوند چې د ۲۰۱۵ کال پوري ۱۶ میلیارډه امریکایي ډالر آماده کوي او تر ۲۰۱۷ کال پوري به په همدغه اندازه او یا د تیري لسیزي په

انډول د مرستو کچه وساتي، خوښي څرګندوم. اوس د پاتې پروګرامونو نهايي کول، د نظارت او همغږۍ د بورډ د جوړښت لا پياوړې کولو باندي هوکړه او د مرستو د مديريت د پاليسي تسويد باندي دوامداره پاملرنې ته اړتيا ده. د دغو ژمنو د پوره کولو لپاره د نهايي موخو پر تحقق باندي بايد تمرکز وشي چې د ځان بسياينې په لار باندي دوامداره تګ، د مشروع حکومت ساختارونه، د خدماتو عرضه کول او ټيکاو په ګډون دي.

۵۹. د توکيو کاري چوکاټ د شاخصونو په اړوند پرمختګ مهم دي. د ملي لومړيتوبونو پروګرام منظم رده بندي کول بايد اوس د ملموس پرمختګ د پايلو لپاره وسيله او لاره طرحه کړي. د مخدره توکو په وړاندې مبارزه، د تنفيذ شوي نظارت ميکانيزم، د توکيو د کنفرانس د پايلو او د ولسمشر د جولاي د ۲۷ نېټې د فرمان له لاري، هڅې ګړنديکول، ټول د دغه ستونزي د ټوليز طبيعت د تاييد لپاره مثبت ګامونه دي. د اداري فساد پر ضد مبارزه د چارواکو د لا زيات ملاتړ ته اړتيا لري تر څو د نظارت او ارزوني کميټه خپله دنده تر سره کړي، په داسې حال کې چې د کابل بانک د اخيستل شويو پيسو بېرته پيدا کول او اړوند کسان تر عدلي تعقيب لاندي نيول هم اړين دي. په بدل کې، د ملګرو ملتونو په ګډون، نړيواله ټولنه بايد د وړاندوينې وړ مرستي په داسې ډول آماده کړي چې ملي مشارکت او ظرفيت پياوړي کړي.

۶۰. څرنګه چې ډنرانو په توکيو کې په تکرار سره وويل، د بشري حقونو د ساتنې او ترويج په ډګر کې لاسته راوړنې، په ځانګړې ډول د ښځو حقونه، ډير مهم دي. په دغه ډګر کې د ښځو په وړاندي د تاوتريخوالي د له منځه وړلو قانون او په افغانستان کې د ښځو لپاره د عمل ملي پلان پلي کول کليدي شاخصونه دي. څرنګه چې د څو بُعدي کلستر شاخص سروي کې واضح شوي، د ښځو ځواکمن کولو لپاره ژمنې د پرمختګ په پايلو کې آخرني پانګونه ده.

۶۱. د راتلونکې دوري ټولټاکنې او د سياسي انتقال اهميت هم د توکيو په کنفرانس کې اصلي زړي و. دغه ټاکنې بايد صادقانه سيالې وي، د هر ډول کورنې او بهرنې مداخلو څخه پاک وي تر څو په هغه کې د هيواد په هر ګوټ کې هر افغان وکولاي شي ځان ثبت کړي او خپله رايه وکاروي. د سياسي ګوندونو او مدنې ټولنو تر منځ د پياوړې بحث لپاره بې له خنډه فُرصتونه چې په هغه کې د راپور ورکولو لپاره خپلواک رسنې هم شتون ولري، د سياسي پلوراليزم يا کثرت ګرايي اساسي ليرليد څخه دي. اړتيا ده چې ستر داخلي او نړيوال پام څخه کار واخيستل شي، ځکه چې د باور وړ خپلواکو نهادونو، کاري چوکاټونو او پروسو د استحکام لپاره ښه وقت مساعد دی چې بايد تري ښه استفاده وشي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون لپاره پياوړي مشرتابه د ډونرانو د اعتماد لاسته راوړلو او تر هغه زياتره د بارو وړ ټاکنو د پروسي لپاره ډيره مهمه ده. اوس مهال د ملګرو ملتونو د پراختيا پروګرام د ايليکت دوهمې پروژه ته د ظرفيت ايجادولو او تخنيکې مرسته آماده کوي. که چېري افغان چارواکې غوښتنه وکړي، ملګري ملتونه تيار دی چې د ټاکنو د ملاتړ د بلقوه فعاليت د تعين لپاره د اړتياو د تحليل دنده په غاړه واخلي.

۶۲. د ۲۰۱۱ کال د ثبت شوي زياتو امنيتي پېښو په پرتله امنيتي وضعيت کې ښه والي راغلي. خو دغه لاسته راوړنه ندی توانيدلې چې د خلکو آند د ښه امنيت لپاره قانع کړي او همدارنګه د نهادونو په جوړښتونو کې، چې د اوږد مهاله مودي ثبات ته اړين دې، ښه والې نه تر سترګو کيږي. د جګړې د اوږدي دوري د کمولو لپاره موجوده بلقوه رجحاناتو کې لږ بدلون راغلي. د دي بر سېره د نړيوال مخ په کميدو حضور به هم په زياتو سيمو کې، لږ تر لږه د لنډې مودې لپاره، ناوړه مالي اغيزي پر ځاي پريږدي، چې کيداي شې د لوټمارۍ کړني زيات کړي او د پيسو د جريان کمښت جنايتکارې هم وهڅوي. اړتيا ده چې د

حکومت او نړیواله ټولنه سره یو ځای کار وکړي تر څو امنیتي او د بشري مرستو خطرات کم کړي چې د اقتصاد د کوچنې کیدو له امله پیدا کیږي. ملګري ملتونو د خپلو عمده همکارانو سره په همغږۍ او د خپلو محدودو سر چینو سره به هڅه وکړي چې، د لیږد د پروسې څخه را پیدا شوي تشې په ډکولو سره، افغانانو سره مرسته وکړي.

.۶۳ د امنیتي لیږد پروګرام تر اوس مهاله د تمې او پلان سره سم روان دی. په دې خاطر چې د بلقوه دوامداره جګړې او یا د زیات بې ثباتۍ او پراګندګۍ څخه مخنیوی وشي، د برخوالو په منځ کې داسې مخ پر وده هیلې پیدا شوې چې د افغانانو تر منځ د سازګارۍ لپاره زیاته بېړنۍ اړتیا په ګوته کوي. د مناسبو مخاطبانو سره د طالبانو د ځینې غړو لخوا د خبرو اترو لپاره نښې نښانې تر سترګو کیږي. د افغانانو تر مشرۍ او د افغانانو په مالکیت د سولې او مصالحې د پروسې لپاره د ښو هڅو په عرصه کې ملاتړ تیارول د یوناما د کلیدي دندو څخه دی. زه د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) په پریکړه کې د افغانستان د سولې او مصالحې د کاری چوکاټونو په اړوند د هوکړې په لړ کې د ستر رجحان ملاتړ کوم. په ځانګړی ډول د سفر د تعذیراتو لیرې کول ممکنه ده د سولې د هڅو د پرمخ بیولو په ډګر کې د یوه ګټه وري وسیلې په ډول وکارول شي. دینې فعالین او نهادونه هم کولای شي د سولې او مصالحې د پرمخ بیولو او ترویج کې رغنده ونډه ولوبوي او په دغه ډګر کې یوناما لیرې پرتو سیمو ته د خپل لاسرسی او د فعالیت ظرفیتونه په دوامداره توګه پیاوړی کوي.

.۶۴ په داسې حال کې چې د ملکي تلفاتو په شمېر کې کموالې د ستایلو وړ دی، لاسته راوړنې ماتیدونکې دي او لا هم یو ستر بشری ناورین په ګوته کوي. د ملکي تلفاتو زیاتره شمیره د حکومت ضد عناصرو لخوا د فشاري ماینونو، تعبیه شوي چاودیدونکې توکې، ځانمرګي بریدونو او د ښځو او نارینه په ګډون چې د سولې او مصالحې په تعقیبولوکو فعاله دې، د هدفي وژنو له امله رامنځته شوي. د دا ډول شرمناکو تروریستي اعمالو ترتیبوونکې او داخلي او بهرنې حامیان باید آګاه وي چې کیدای شي دوي د وخت په تېریدو سره د خپلو کړنو په خاطر چې د نړیوال بشرپالنې قانون او د امنیت د شورا د اړوندو پریکړو څخه سرغړونه دی، عدالت ته وړاندي شي. زه په ځانګړی ډول د دولت ضد عناصرو باندي غږ کوم چې د بشري مرستو موسسو ته اجازه ورکړي چې ټولنو ته لاسرسي ولري او د واکسین کولو د کمپاینونو په خاطر خپل ټولنېز ژمنې څرګند کړي.

.۶۵ د حکومت پلوه ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو د کمښت لپاره چې کوم اغیزمن ګامونه اخیستل شوي دي باید یادونه وشي. په داسې حال کې چې افغان امنیتي ځواکونه په پراخه پیمانه امنیتي مسولیتونه په غاړه اخېستې دي د افغان پوځ په چوکاټ کې د ملکي تلفاتو د کمښت ډله رامنځته کول، چې د پېښو دقیق ردیابي او پر وخت خبرېنې په تامین کې مُمِد واقع کیږی، د دغه ډول هڅو د دوام لپاره د اهمیت وړ دي. پر افغان ځواکونو باندې د خلکو د باور د رامنځته کولو پخاطر، چې د افغان ولس د ساتنې او د قانون د حاکمیت د پلي کولو مسولیت په غاړه لري، حسابورکوونه ډیره مهمه ده. روښانه قومانده او کنټرول هم مهمه ده، او پدې اړوند یوناما د خپلو شریکانو سره په ځانګړی ډول د افغان ځايي پولیسو په اړه خپلې اندیښنې څرګند کړي.

.۶۶ په افغانستان کې د بشري مرستو د ژور اړتیاو په پام کې نیولو سره، د کال په منځ د بیا کتنې وروسته، د واحد غوښتې پروسه ۴۴۸، میلیونه ډالر ته لوړ شو تر څو د کابو ۸.۸ میلیونه وګړي لپاره د ژوند ژغورلو مرستو ته رسیدګي وکړي. باید وویل شي چې د اندیښنې وړ ده چې د اګست د میاشتې تر ۱ نېټې پوري د غوښتنې په ځواب کې ۳۳.۵ سلنه ځواب ورکړی شوي چې د ۲۰۱۱ کال د ورته مودی په دوره کې د موجودې بودجې تر نیمايي هم کم دی.

۶۷. د استانبول پروسه د سیمه ییز ملاتړ تسلل یې ژوندي او پیاوړي کړي دی، افغانستان ته دسیمه ییزو مرستو په بیا تعریف کې مرسته کړي او د خیرات د عمل پر ځای د دواړو خواوو د ګټو پر بنسټ عیار کړي.د آسیا د زړه هیوادونو او د ملاتړ کوونکو تر منځ د تعامل کچه د لومړني اټکل شوي تمې څخه، د پیاوړي څو بعدی ځانګړي پروسو، سیمه ییز ګډون، د افغان مشرتابه او نړیوال ملاتړ له امله زیات شوي. زه په ځانګړي ډول د افغانستان د هغو ګاوندي هیوادونو او ګډونکوونکو ملتونو څخه مننډوي یم چې ژمنه کړي تر څو د اعتماد رامنځته کولو تدبیرونو کې مشري په غاړه واخلي چې د استانبول د پروسي په کاري چوکاټ کې ورباندي هوکړه کړیدې.

۶۸. د یوناما د بیا جوړښت او د سرچینو زیات کموالې به هرو مرو پر عملیاتي ظرفیت او د ماموریت پر پلې کولو باندي اغیزه کوي. د افغانستان د حکومت، مدني ټولني او دولتونو غړو د تمو په رڼا کې د ۲۰۱۴ کال وروسته د ماموریت مسولیتونه او د ملګرو ملتونو موسسو لپاره رغنده خبرو اترو ته اړتیا شته. تنقیصات په هیڅ معنی د وتلو مقدمه نه ده. ملګري ملتونو د ۶۰ کلونو را پدیخوا د افغانستان پیاوړی همکار تېر شوي او زموږ ژمني د دغه ملت د امن او سولییز راتلونکي لپاره پر خپل حال پاتي دي.

۶۹. زه غواړم چې یو وار بیا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له ټولو داخلي او بهرني کارکوونکو، په ځانګړې توګه زما ځانګړې استازی، ښاغلي یان کوبیش څخه مننه وکړم چې له ننګونو څخه ډک حالاتو کې په ایثار او سرښندنې سره د افغانستان د خلګو ملاتړ ته دوام ورکوي.